# ٢٧ د خير دروازې
# په رمضان کې

**لغة البشتو**



# ٢٧ د خير دروازې
# په رمضان کی

الحمد لله رب البريات، عالم الخفيات، المطلع على الضمائر والنيات، أحمده سبحانه على ما خصنا به من جلائل النعم، وأشكره على ما حبانا به من ألوان الجود وصنوف الكرم، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اللهم صل وسلم على عبدك ورسولك محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

أما بعد:
بې له شکه چې د رمضان مياشت د خير، نيکۍ او بښېګړې مياشت ده، او د فضيلت نښه ده، او دا فضيلت د هغه نيکو اعمالو لپاره دی چې په دې مياشت کې ترسره کيږي، او د نورو مياشتو په پرته پکې نفسونه ډير فعال وي. ځکه چې په دې مياشت کې شيطانان په ځنځيرونو تړل شوي وي او په وجه چې خلک پکې الله جل جلاله ته ډېره توجه کوي او د نيک أعمالو دروازې په رمضان کې ډېرې وي او همدارنګه نورو وختونو کې هم، خو په رمضان کې ډېر مؤکد وي.

ځينې له دغو اعمالو څخه:

## لومړی: اخلاص:

الله تعالی فرمايلي: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ﴾

[سورة البينة].

ژباړه: (او دوی ته امر نه وشوی مګر ددې خبرې چې يوازې د الله تعالی بندګي په اخلاص سره وکړي، او لمونځ قايم کړي او زکات ورکړي او دا ارزښتناک دين دی).

## دويم: الله تعالی ته بار بار توبه ويستل:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (من تاب قبل أن تطلع الشمس من مغربها تاب الله عليه) [أخرجه مسلم (٣/٢٧)]

ژباړه: (چا چې د لمر له لويدو نه مخکې توبه وويستله، الله تعالی به يې توبه قبوله کړي).

## دريم: د ايمان له مخې او د ثواب په نيت د رمضان روژه نيول:

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: چا چې د رمضان روژه د ايمان له مخې او د ثواب په نيت ونيوله، د هغه مخکيني ګناهونه به وبښل شي. [بخاري (٣٨) او مسلم (٧٥٩)]

## څلورم: د ايمان له مخې او د ثواب په نيت د رمضان قيام الليل کول:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې په رمضان کې د ايمان له مخې او د ثواب په نيت قيام الليل وکړي الله تعالى به د هغه مخکيني ګناهونه معاف کړي)

[رواه البخاري (۲۰۰۸) او مسلم (۱ / ۷۵۹)]

## پنځم: د قدر په شپه د ايمان له مخې او د ثواب په نيت قيام الليل كول:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د قدر په شپه د ايمان له مخې او د ثواب په نيت قيام الليل وکړي، د هغه د تېر کال ګناهونه به وبښل شي) [صحيح امام بخاري (۳۸) او امام مسلم: ۷۵۹)]

## شپږم: په اخرو لسو شپو کې په عبادت کې ډېر کوشش كول:

عائشه رضي الله عنها فرمايي: کله چې به د رمضان اخري لس شپې داخلې شوې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به شپه په عبادت ژوندئ کړه، او خپل اهل به يې راويښ کړه او لنګ به يې وتاړه) [دا حديث امام بخاري (۲۰۲٤) او مسلم (۱۱۷٤) روايت کړی].

## اووم: عمره كول:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په رمضان کې عمره کول زما سره د حج برابره ده. [دا حديث امام بخارى (۱۸٦۳) او

امام مسلم (۱۲۵٦) د عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی]

**اتم: اعتکاف کول:**

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د روژې په وروستيو لسو ورځو کې اعتکاف کاوه) [دا حديث امام بخاري (۲۰۲۵) او امام مسلم (۱۱۷۱) روایت کړی].

**نهم: د امام سره تراويح كول تر دې چې سلام وګرځوي:**

ابو داود وغېره له ابوذر رضي الله عنه څخه روايت کړی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې له امام سره تر هغه وخته ولاړ وي تر څو چې سلام وګرځوي، دا به د هغه لپاره قيام الليل وليکل شي) [شيخ الباني په صلاة التراويح کې دا حديث صحيح کړی دی (۱۵ مخ)].

**لسم: د قرآنکريم تلاوت زيات كول:**

په بخاري او مسلم کې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه دا ثابته شوې ده، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلکو کې تر ټولو ډېر سخي و، او هغه به بيا په رمضان کې تر ټولو زيات سخاوت کاوه، او کله چې به جبرائيل عليه السلام له هغه سره ملاقات کاوه او قرآن کريم به يې ورته تېروه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به دې وخت کې د هوا نه هم زيات سخي و).

## يوولسم: په روژه ماتي کي بيړه کول:

(رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: خلکو کې به تر هغه وخته پوري خير وي تر څو چې په روژه ماتي کې بيړه کوي) [دا حديث امام بخاري (۱۹۵۷) او امام مسلم (۱۰۹۸) د سهل بن سعد څخه روايت دى].

## دولسم: په خُرما سره روژه ماتول که موجوده وي:

(رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: که ستاسو څخه يو څوک روژه وي نو په خرما دې روژه ماته وکړي او که خرما ونه مومي نو په اوبو دې روژه ماته کړي ځکه اوبه پاکي دي) [شيخ البانى په صحيح الجامع (٧٤٦) کې دا حديث صحيح کړى]

## ديارلسم: د روژې ماتي وروسته د دعا اهتمام کول:

(رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله روژه ماته کړه دا دعا به يې ويله: (ذهب الظمأ وابتلت العروق وثبت الأجر ان شاء الله)

[دا حديث ابوداود او دارقطني او حاكم د ابن عمر څخه روايت کړى، او شيخ الباني په (ارواءالغليل: ۹۲۰) کتاب کې حسن کړى].

## څوارلسم: د روژې په وخت کې ډېرې دعاګانې کول:

(رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د درېو کسانو دعاګانې قبولې شوي دي: د روژه دار دعا، د مظلوم دعا، او د مسافر دعا) [دا حديث امام بيهقي په "شعب الايمان" وغيره کې روايت

کړی.او شيخ الباني په صحيح الجامع (۳۰۳۰) کې صحيح کړی].

**پنځلسم: پيشلمي کول:**

(رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (پېشلمي کوئ، ځکه چې په پېشلمي کې برکت دی)
[دا حديث امام بخاري (۱۹۲۳) او مسلم (۱۰۹۵) له انس رضی الله عنه څخه روايت کړی دی.]

**شپاړسم: له خوراک او څښاک وروسته الحمد لله ويل:**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (الله تعالی د هغه بنده څخه راضي کيږي چې خوراک وکړي او د هغه شکر اداء کړي يا څښاک وکړي او د هغه شکر اداء کړي).

**اوولسم: چوپتيا او د ژبې حفاظت کول مګر دا چې د خېر خبره پرې کوې:**

(رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لري يا دې د خېر خبره وکړي او يا دې چوپ پاتې شي) [دا حديث امام بخاري (٦٤٧) او امام مسلم (٤٧) کې د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت کړی]

او (رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې درواغ، او په هغي باندې عمل پرې نږدي، نو الله تعالی ته د هغه د خوراک او څښاک پرېښودلو ته اړتيا نلري) [دا حديث امام بخاري (۱۹۰۳) روايت کړی]

او (رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: روژه د خوراک

او ښناک څخه نه ده، بلکه روژه د لغو خبرو او فحاشۍ نه ځان ساتلو څخه ده، که چېرې درته څوک کنځل کوې او یا درسره ناپوهي کوي, نو ته ورته ووایه : زه روژه یم زه روژه یم)

[دا حدیث امام ابن خزیمه او ابن حبان روایت کړی, او شیخ الباني رحمه الله په صحیح الترغیب کې( ۱۰۸۲) کې صحیح کړی].

## اتلسم: سهار وختي جومات ته تلل او د لمانځه انتظار کول:

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:( که خلک پوهېدلی چې په اذان او اول صف کې څومره اجر دی، او بیا یې بله لار نه وای موندلی مګر دا چې قرعه کشي وکړي نو دوی به قرعه کشي کړای وی) [دا حدیث امام بخاري او امام مسلم روایت کړی].

او له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: له تاسو څخه یو څوک تر هغه وخته پورې په لمانځه کې حسابیږي تر څو چې د لمونځ په نیت ناست وي، دخپل کور نه نه وي منع کړی مګر لمونځ) [دا حدیث امام بخاري (٤٧٧) او امام مسلم (٦٤٩). روایت کړی].

د نومورې څخه هم روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (ایا زه تاسو ته هغه څه ونه ښایم چې په هغې

سره الله تعالی ګناهونه له منځه وړي او درجې ورسره لوړېږي؟ هغوی وويل: ولې نه ای د الله تعالی رسوله، هغه وفرمايل: په وخت د تکليف او مشقت کې ښايسته اودس کول، مسجد ته ډېر قدمونه اخيستل، او له يو لمونځ وروسته د بل لمونځ انتظار کول، ځکه چې همدا دين کې ځان لګول دي همدا په دين کې ځان لګول دي) [دا حديث امام مسلم (۲۵۱) روايت کړی].

## نولسم : په دې مياشت کې نورو ته د خوړو ورکولو حرص کول :

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: يو سړي له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې کوم اسلام غوره دی؟ هغه وفرمايل: بل ته خوراک ورکول او پر هر چا سلام اچول که پېژني او که نه يې پېژني) [دا حديث امام بخاري (۱۲) او امام مسلم (۳۹) روايت کړی دی]

او له عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : ( ای خلکو سلام خپور کړئ، او خلکو ته خواړه ورکړئ، او خپلولي وپالئ، او د شپې په داسې حال کې لمونځ وکړئ چې خلک ويده وي جنت ته به په سلامتی سره داخل شی )
[دا حديث امام ترمذي او امام ابن ماجه روايت کړی او شيخ الباني په " صحيح الترغيب"

٢٤/٣ (٢٦٩٧) کې صحیح کړی].
او کله چې به رمضان داخل شو امام زهری به ویل: رمضان خو یوازې د قرآن تلاوت او بل ته د خوړو ورکولو میاشت ده) [ابن رجب (٣١٨)].

**شلم: د روژه دارو ته افطاري یعنې روژه ماتی ورکول، یا ورته په خپل کور کې خواړه چمتو کول، یا جوماتونو ته ورلیږل، یا هغه ځایونو ته ورته خواړه وړل کومو ځایونو کې چې هغوی جمع کیږي:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې روژه دار ته روژه ماتی ورکړي، الله تعالی به ورته د هغه هومره ثواب ورکړي، او د روژه دار په ثواب کې به هیڅ کمی نه راځي) [دا حدیث امام ترمذي رحمه الله راوړی, او بیا ئې ویلي چې دا حدیث حسن او صحیح دی او شیخ البانی په "صحیح الترغیب" (١٠٧٨) کی د زید بن خالد له روایته صحیح بللی دی]

**یوویشتم: د الله تعالی په لاره کې صدقه او خرچ کول:**

الله جل جلاله فرمایي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَـٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَـٰعَةٞۗ وَٱلۡكَـٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴾ [البقرة: ٢٥٤]
اې ایمان والو ! خرچ کړی له هغه څه څخه چې مونږ تاسو ته درکړي دي، مخکې له دې چې داسې ورځ راشي، چې

نه به پکې اخيستل خرخول وي، او نه دوستي وي او نه به سفارش وي، او کافران همدوی ظالمان دي)

او له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (چا چې د يوې خرما په اندازه د پاک مال څخه صدقه وکړه او الله تعالی له پاک مال پرته بل څه نه قبلوي، نو الله تعالی يې په خپل ښي لاس سره قبلوي، بيا د هغه مالک لپاره د دغه صدقې تربيت کوي، لکه ځرنګه چې په تاسو کې څوک د خپل د اس بچی تربيت کوي، تر دې چې هغه صدقه د غره په څير شي)

[دا حديث امام بخاري (۱٤۱۰) او امام مسلم (۲/۷۰۲) روايت کړی]

له عدی بن حاتم رضی الله عنه څخه روايت دی، چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايي: ( په تاسو کې داسې څوک نشته، مګر دا چې الله تعالی به له هغه سره خامخا خبرې کوي، چې د الله تعالی او د بنده ترمنځ به کوم ترجمان نه وي, ښي طرف ته به وګوري وبه نه ويني مګر هغه څه چې ده وړاندې لېږلي وي, چپ طرف ته به وګوري وبه نه ويني مګر هغه څه چې ده وړاندې لېږلي وي, بيا به مخکې وګوري د اور پرته به نور څه ونه ويني, بس له اوره ووېرېږئ اګر که په نيمايی خرما سره ولې نه وي )

**دوه ويشتم: له سوداګرو او دوکاندارانو سره د جامو په اخيستلو کې همغږي او د روژې په مياشت کې په بې وزلو خلکو د ويشل:**

الله تعالی فرمايلي:﴿ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ ﴾ [المائدة: ٢].

ژباړه :( او په نيکۍ او تقوا کې همکاري کوئ، خو په ګناه او سرکشۍ کې همکاري مه کوئ)

او له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: امانتدار خزانچي هغه دی په څه چې ورته امر وشي هغه پوره د زړه نه پخپله خوښه خپل حقدار ته يې وسپاري) دا حديث ابو داود روايت کړی دی. او شيخ البانی رحمه الله په خپل صحيح (١۴٧۶) کې صحيح کړی.

**درويشتم: د رمضان په مياشت کې موضوعګانې ترتيبول، تر څو يې پخپله وړاندې کړي که اهليت يې لري. او يادې بل دعوتګر راوبلي:**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ( څوک چې د هدايت لورې ته بلنه وکړي، د هغه لپاره به د هغه د پيروانو په اندازه اجر وي، پرته له دې چې د دوی په اجرونو کې به څه کمی هم رانشي) [دا د مسلم (٢٦٧٤) روايت دی].

**څلورويشتم: د روژې په پای کې د صدقة الفطر ( سرسايه) ورکول:**

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې: (

رسول الله صلى الله علیه وسلم صدقه الفطر فرض کړی ده ځکه چې دا د روژه دار لپاره له فضول خبرو او فحاشۍ ښخه پاکوالی دی, او د غریبانو لپاره خواړه دي , پس چا چې دلمانځه نه مخکې ورکړه د هغه قبول شوی زکات دی, او چا چې د اختر دلمانځه وروسته اداء کړه نو هغه یوه صدقه وه د صدقانو نه) [دا حدیث امام ابو داود امام شیخ البانی رحمه الله داحدیث حسن ګرځولی . وګوره کتاب الام " (١٤٢٧)].

**پنځه ویشتم: له مسلمانانو سره د اختر لمونځ ادا کول:**

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه ښخه روایت دی فرمایي (چې رسول الله صلى الله علیه وسلم به د کوچني اختر او لوی اختر ادا کولو لپاره مصلی ته وتلو لومړی کار چې هغه به پرې پیل کاوه هغه لمونځ و ) [دا حدیث امام بخاري (٩١٣) او مسلم (٢٠٥٠) روایت کړی او دا د مسلم شریف لفظ دی].

**شپږ ویشتم: ماشومان په روژه عادتول:**

له ربیع بنت معاذ رضی الله عنها ښخه روایت دی، فرمایلي دي موږ به پخپلو ماشومانو روژه نیوله او مونږ به هغوی ته د وړیو نه لوبې جوړولې کله چې به یو تن د ولږې نه ژړل، موږ به هغه ته ورکړې تر دې چې افطاري وخت به شو) [دا حدیث امام بخاري په (١٩٦٠) روایت کړی].

**وویشتم: له رمضان وروسته د شوال شپږ روژې نیول:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (چا چې د رمضان روژې ونیولې او بیا یې ورپسې د شوال شپږ روژې ونیولې، دا داسې ده لکه ده چې ټول عمر روژې نیولي وي) [دا حدیث امام مسلم رحمه الله (١١٦٤) له ابو ایوب انصاري رضی الله عنه څخه روایت کړی].